


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحیم

# د کتاب پېژندنه

نوم . د لوط (ع) قوم

لیکوال . سیدادریس (سادات)

ډیزاین . پخپله لیکوال

ایمیل . Sai.adrees.sadat@gmail.com

د اړیکو شمیره . 0731363201

د ټلګرام چینل . https://t.me/sadattvnovel

کال . ۱۴۰۳

که تاسې هم د خپل کتاب لپاره ډیزاین یا کمپوز ته اړتیا لرئ، نو له موږ سره په لاندې شمارو اړیکه ونیسئ...

0731363201

SA

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یادونه

**که چیرې غواړئ، پوره لس دقیقه یې فلم یې په یوټیوب کې وګورئ.**

**نو په لاندې لینک کلیک وکړئ.**

**او ویې ګورئ.!**

**[https://youtu.be/q9EGN5EsUhw](https://youtu.be/q9EGN5EsUhw)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پیل**

**د لوط ع قوم:**

**کومو خلکو چې داسې بدکاري ایجاد کړه، چې له دوی مخکې په دنیا کې هیڅ قوم هم داسې بدکاري نه وه کړې.**

**هغه داسې بدکاري وه، چې ساری یې په تاریخ کې نه لیدل کیږي.**

**دې قوم داسې څه کار کړې وو، او د دوی انجام څه شی شو؟**

**حضرت لوط ع د الله تعالی یو ډیر ښه نبي وو، د هغه د والد صیب نوم حران وو.**

**د هغه پیدایښت د عراق په پخواني ښار اور کې شوی دی.**

**دغه ښار د ابراهیم ع مسکن وو، د لوط ع پلار حران د حضرت ابراهیم ع سکه ورور وو.**

**یعنې حضرت لوط ع د حضرت ابراهیم ع وراره وو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر کله چې د حضرت لوط ع پلار د لوط ع په کوچنیوالی کې مړ شو، نو د حضرت لوط ع پالنه حضرت ابراهیم ع په غاړه واخیسته!

او هغه یې پخپل زویولی ونیوه

دی په حضرت ابراهیم ع تر ټولو لومړي ایمان راوړونکو کې شامل دی.

دی د سدوم خلکو ته الله د نبي په ډول ورولیګه، حضرت ع ډیر زیات معجزات درلودل، هر کله چې به لوط ع د باران دعا وغوښته.

نو سمدستي به وریځ راپیدا شوه، او الله تعالی به له هغې وریځې څخه باران کاوه.

په کومه تیره چې به حضرت لوط ع خپل سر مبارک کېښود، په هغه تیره به د ده مبارک د سر چاپ جوړېده.

سدوم هغه سیمه وه، په کومو خلکو باندې چې حضرت لوط ع مبعوث شوی وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سدوم سره سره هغه وخت پنځه نور هم همداسې ښکلي ښکلي ښارونه اباد شوي وو.

چې په هر ښار کې یې د یو یو لکو نه زیات اشخاص استوګن وو.

دغه سیمه ډېره زیاته شنه او خیرازه وه، چې د الله تعالی د قدرتونو ستر مثال یې عامو خلکو ته وړاندې کاوه.

دلته د باغونو کثرت وو، هر هغه څه چې د انسانانو ضروریات وو، دلته له حده زیات وو.

د سدوم شام او اسرایلو په منځ کې دغه سیمه ډېره زیاته خیرازه وه.

هلته انار شفتالو او نورې میوې په ډېره زیاته پیمانه پیدا کیدې، او همدغه علت وو چې بستي خلک به د خپلو ضروریاتو د پوره کلو لپاره دې ځای ته راتلل او له دې ځایه به یې په پراخه پیمانه هر څه وړل!

دغه کار د سدوم د ښار خلکو بیخي نه خوښېده، د دوی داسې فکر وو چې پدې انارو پلیو کجورو او شفتالانو صرف او د دوی حق دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی نه غوښتل چې د نورو ځایونو خلک دې د دوی سیمې ته ورشي.

یوه ورځ دوی پخلپو کې سره کښېنستل تر څو پدې خبره غور وکړي، چې د بهر نه راتلونکي خلک څنګه لدې ځایه منعه کړو.

دا وخت ابلیس شیطان د یو غوره بزرګ په شکل کې د دوی محفل ته راغی.

او ورته یې وویل:

که چیرې تاسې غواړئ، دغه مشکل مو حل شي.

نو زما په دغه وینا عمل وکړئ، د دغه نابلده بزرګ خبرو ته هغه خلک ډېر زیات په توجه سره کښېناستل.

ابلیس هغوی ته وویل:

زه به تاسې ته سبا تهووایم.

په دوهمه ورځ شیطان د یوې ښکلې او ځوانې انجلۍ په شکل کې د دوی خوا ته ورغی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دوی ته یې د دوی د زنانه وو پر ځای د نارینه وو سره د غلط کار یادونه وکړه.

ابلیس ورته وویل:

که چیرې تاسې غواړئ، د هغه بل کلي خلک ستاسې کلي ته رانشي، نو تاسې داسې وکړئ.

چې هر نفر د هغه بل کلي څخه راځي، نو تاسې له هغه سره په زور او زشتی خپل خواهش پوره کړئ.

په دې سره به د هغې کلي خلک ستاسې کلی خوشې کړي.

د دوی د نفسیاتي خواهشاتو د لاسه د نارینه وو سره بدکاري د دوی رواج شو.

دلته بې حیایې عامه شوه.

سرداران وو او که غلامان په کور کور کې دغه عمل شروع شو.

په هر محفل کې به فحاشیان په دغه عمل کولو سره خوشحاله کېدل، دغه عمل چې به په کوم محفل کې نه کېده.

نو خلکو به هلته داسې فکر کاوه، چې دا محفل ډېرې زیاتې نیمګړتیاوې لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاصکر کومو مسافرو کې چې به دوی داسې ښايسته هلک ولید، نو دوی به هغه خپل شکار وګرځاوه.

په کلمود نومي کتاب کې ليکل شوي دي، چې اهل سودوم په خپل روزمره ژوند کې ډير زيات ظالمان او بد کاره خلک وو.

هيڅ مسافر هم د هغوی له سيمې څخه په خير تېر شوی نه وو.

هيڅ غريب هم د هغوی له کلي څخه د ډوډۍ يوه تکړه نشوه وړلای، په کراتو کراتو داسې شوي دي.

چې هر مسافر به د دوی کلی پيدا کړ، نو هغه به دلته د ډيرو وهلو خوړلو د لاسه مړ شو.

دوی به د هغه څخه جامې وباسلې او لوڅ به يې په يوه بيديا کې وغورځاوه.

دوی پخپل ځای کې يو ځانګړی ځای جوړ کړ، چې هلته به هر د ډول بې حيايې سره سره دغه خاصه بدکاري هم کېده.

حضرت لوط ع هغوی ته د توحيد دعوت ورکړ او له دغه بدکارۍ څخه يې ورته د توبه کولو حکم وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت لوط ع هغوی ته وویل:

تاسې ولې دومره بې حیا شوې یاست؟

که چیرې تاسې خپلې بیبیانې پریږدئ او د نارینه وو سره خپل خواهشات پوره کوئ.

نو اصلي حقیقت دادی، چې تاسې تر ټولو زیات احمقان یاست.

حضرت لوط د سدوم خلک ته شپه او ورځ نصیحتونه وکړل، مګر پدغه قوم دغه خبرو هیڅ تاثیر ونکړ.

بلکې هغوی بیا هم دغه کار په ډیر فخر سره کاوه.

هغوی حضرت لوط ع ته وویل:

که چیرې ته زموږ په کار کې داسې مداخلت کوې.

او موږ ته نوې لارې ښایې، نو لرې نده چې موږ به تا د خپل ښار څخه وباسو.

د دې سره سره بیا هم حضرت لوط ع د خپل تبلیغ او دعوت سلسله جاري وساتله!

په اخر کې دوی حضرت لوط ع ته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



که چیرې ته په ریښتینی یې، نو په موږ باندې عذاب راوله.

هغوی پخپله په ځان د عذاب راوستلو فیصله وکړه.

الله تعالی خپلې خاص فرشتې د دنیا په طرف ورولیږلې، دغه فریشتې حضرت جبراییل میکاییل او اسرافیل ع وې.

دغه فریشتو د حضرت لوط ع کور ته تشریف ورووړ.

حضرت لوط ع چې هر کله دغه ښکلي او نوجوانان هلکان ولیدل، نو ډیر په ډیره ویره او خفګان کې مبتلا شو.

هغې د دې خطره محسوسوله، که چیرې دهغه قوم دوی ولیدل، نو خدای خبر چې د هغوی سره به څه څه وکړي؟

د حضرت لوط ع د بي بي نوم وایله وو، هغه لا تر اوسه ایمان راوړی نه وو.

هغه خپل منافقت وکړ، او د سدوم خلکو ته یې د دې خبر ورساوه چې لوط کور ته درې نوجوانان راغلي دي.

د دې خبرې له اورېدلو سره د دې کلي خلکو د حضرت لوط ع د کور پر لور منډه کړه.

حضرت لوط ع خپل قوم ته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ای قومه!

دغه کومې ښځې چې زما د قوم دي، دغه ستاسې لپاره جایزې او پاکې دي.

د الله تعالی څخه وډار شې.

او ما خپلو میلمنو ته مه شرموئ.

د حضرت لوط په خبرو اوریدلو سره دهغه قوم هغه ته وویل:

ته پدې زموږ له ټولو څخه ښه پوهیږې چې ستا لورګانو ته زموږ هیڅ حاجت نشته، او کوم چې زموږ اصلی مقصد دی هغه ته ډیره زیاته اړتیا لرو.

د قوم لوط د دې بې شرمانه جواب نه د دې اندازه لګیږي، چې هغوی تر کومه حده پورې پدې بې شره او بد کار کې مبتلا وو.

هر کله چې د لوط ع قوم د هغه د کور په طرف ورغلل، نو حضرت لوط ع په هغوی پسې د خپل کور دروازه بنده کړه.

او هغه نوجوانان یې د یوې خونې په طرف بوتلل، د لوط ع قوم د لوط ع د کور و مخې ته چغې وهلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت لوط د خپلو میلمنو د عزت د پاره سخت زیات وبیریده.

درې واړو فریښتو دغه حالت په خپلو سترګو ولید، هر کله چې
یې د حضرت لوط ع دغه بې وسي ولیدله
نو د حقیقت نه پرده پورته کړه.

او داسې یې ورته وفرمایل:

ای لوطه مه وېرېږه ستاسې د رب له لوري تاته رالیږل شوې فریښتې
یو.

دا خلک په تاپسې نشي رسیدای، اوس هم څو شپې پاته دي.

ته خپله کورنۍ واخله او روان شه، او له تاسې څخه باید
هیڅوک هم شاته ونه ګوري.

د لوط قوم د حضرت لوط ع د دروازې ماتول شروع کړل،
پدغه وخت کې حضرت جبرایل ع خپل یو وزر د دروازې پر
لورې په شدت سره وواهه.

د ټول قوم سترګې یې ترخې شوې، او خاصکر د هغو کسانو
سترګې ړندې شوې.

چې دلته د بدکارۍ لپاره راغلي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت لوط ع خپله کورنۍ له ځان سره روانه کړه، د هغه بي بي هم له هغه سره وه.

دوی په منډه منډه وځغستل، تر ډیر زیات مزل وروسته د حضرت لوط ع بي بي د خپل قوم په طرف ولیدل، او هغه د خپل قوم سره جهنم ته ورسېده.

هر کله چې سهار شو نو حضرت جبراییل د الله تعالی په امر سره دغه کلی وخوځاوه.

او بیا یې خپل بازوگان د اسمان پر لور پورته کړل.

پدې سره د اسمان والاوو، د سپیانو او مرغانو اوازونه واوریدل!

بیا یې بازوگان د غه کلي پر لور راښکته کړل، او لدې سره په دی کلي د اور طوفان راغی.

او ورسره د اور باران هم شروع شو.

د باران په هر ښاڅکي د هر لوطي نوم لیکل شوی وو.

او په هر کس چې به د هغه د اور ښاڅکې ولگېد، نو د هغه سر به هرې خواته وپاشل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سهار د شروع کېدو نه وروسته تر اشراق وخته پورې دغه د سدوم ښار او خلک نیست و نابود شول.

د قوم لوط هغه ښکلی کلی الله تعالی په یو بد بویه او بدرنګه کلي بدل کړ.

پدغه کلي کې بدبویه اوبه ځای پر ځای شوې، چې لدې اوبو څخه د دنیا هیڅ انسان هم فایده اخیستی نشوه.

د دې کلي سره په سنګ سمندر کې نه هم کوم ماهي ژوندي پاته شو، او نه هم کوم نهنګ

د دې څخه دا معلومیږي، چې دوی له ځانه سره دغه ټوله بهریه مرداره کړه.

کومه چې د اسراییل او اوردن په منځ کې واقع ده.

ماهیرینو د هاغه تبا شوي ښار اثار د لسو کالو په موده پیدا کړل، د تحقیقاتو نه دا معلومیږي، چې په هاغه ښار کې ژوند بلکل ختم شوی دی.

د دې ښار د اړخونو او کنډرونو په لیدلو سره جیولوجیستانو دغه اندازه ولګوله چې هر کله ښار تبا کیده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو خلک یې پخپلو روزمره کارونو او معاملو کې مشغوله وو.

او دلته زنده ګي یو دمي ختمه شوې ده.

د سدوم له کومو خلکو چې تیرې جوړې شوې وې.

د هغوی بوتان اوس هم د مردار بهر په خوا کې شته دی.

تر څو تر قیامته د خلکو لپاره یو عبرت پاتې شي، اوس یوروپي ممالکو د انساني ازادۍ په نامه ددغې بدکارۍ اجازه ورکړې ده.

او دغه فحاش عمل ورته فخر ښکاریږي، مګر حقیقت دادی چې همجنس پرستي بلکل د د فطرت خلاف عمل دی.

کومه چې انساني معاشره تبا او بربادوي، په روایتونو کې راغلي دي چې یوه ورځ حضرت سلیمان ع د شیطان نه وپوښتل، چې تر ټولو بدترین عمل په دنیا کې څه شی دی.

ابلیس ورته وویل:

هغه بدعمل دادی، چې هلک د هلک سره بد فعلي وکړئ، او ښځه د ښځې سره خپل خواهش پوره کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت ابن عباس رض څخه روایت دی، چې حضرت رسول ص فرمایلي دي.

په هغه چا دې د الله تعالی لعنت وي، چې د قوم لوط والا عمل کوي.

او په اخر کې به ووایم، څوک چې موږ ته بشري حقوق راښایې کاش پخپله هم لږ لږ د بشري حقوقو په معنا پوهیدای!

او انسانیت ته یې عمري شرم لکه د لوط ع د قوم په ډول نه پریښودای!

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**